د افغانستان اسلامی امارت
د کانونو او پټرولیم وزارت

# استخراجي صنایع

# لړلیک

حقوقي چوکاټ

د پانګونې فرصتونه

د کانونو سکتور فعلي وضعیت


داوطلبۍ ته سپارل شوي قراردادونه

تر لاس لاندې پروژې

د کوچني مقیاس کان کیندنې جوازونو د ورکړې مرحلې

د کان کیندنې قراردادونو د عقد مرحلې


# په افغانستان کې د منرالونو او هایدرو کاربنونو سرچینې




# زير بناوي

## INFRASTRUCTURE

Ring Road, Dry Ports, and Airports




# د افغانستان د اوسپني پټلۍ شبکه



# د افغانستان اوسنی او راتلونکي برښنا شبکه

## INFRASTRUCTURE

Afghanistan Current and Future Power System



# حقوقي چوکاټ

- د کانونو او پټرولیم وزارت په بازار کې د تغییراتو او د قراردادونو د عقد پروسې د چټکتیا اړتیا په درکولو او د نورو اړتیاو پر بنسټ، د کانونو قانون طرح چمتو کړی چې د عوایدو ټولولو کې روڼتیا، د داوطلبۍ پروسو لنډول او روڼتیا او د اړوندو اداراتو د واکونو او مسولیتونو تفکیک د یادې عمده موخې دي.
- همدارنګه د منرالونو ملي پالیسی په ګډون د کانونو او پټرولیم وزارت ۱٦ مختلفې پالیسي یانې او د چارو ښه اجرا په موخه هرې برخې ته کړنلارې چمتو کړی.
- د کانونو او پټرولیم وزرات په ۱۴۰۱ کال په پیل کې د وزارت ۷ کلنه استراتیژي جوړه کړې، چې په کې د کانونو سکتور لارې نقشه تشریح شوي او د کانونو قراردادونو اولویت بندي د همدې سند په اساس ترسره کیږي.

# د پانګونې فرصتونه

- په هیواد کې بشپړ امنیت
- د کانونو سکتور بشپړ حقوقي رژیم
- د مذاکرې وړ رویالټۍ
- افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا تر منځ تر ټولو لنډه وچه لاره ده. افغانستان د مختلفو سیمه ایزو بندرونو په منځ کې پروت او د شاوخوا ۳ میلیارده انسانانو نښلوونکی دی.( د مرکزي او جنوبي اسیا بازارونو ته آسانه او اقتصادي لاسرسی)
- د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې په مختلفو منرالي زیرمو (سره زر، اوسپینه، المونیم، مس، صنعتي منرالونه، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، نادره عناصر، ساختماني مواد، تزئیني ډبرې) او هایدرو کاربنونو کې د پانګونې فرصتونه شته. افغانستان په لنډ مهال کې کولای شي د بهرنیو هیوادونو د مرمر او لاجوردو اړتیا پوره کړي.
- د کانونو او پټرولیم وزارت هڅه کوي چې سیمه ایزو او نړیوالو شرکتونو ته د کانونو په سکتور کې د پانګونې فرصتونه برابر کړي او په دې سکتور کې پانګونه هڅوي.

# د کانونو فعالې او داوطلبۍ مرحلې کې قراردادونه

- د کانونو او پټرولیم وزارت د ۱۷۰ مختلفو منرالونو(سرب او جست، کرومایټ، نفرایټ، تزئیني ساختماني ډبرو، ساختماني ډبرو او نورو) په کوچني مقیاس او ۴۰ د لوی مقیاس فعال کانونه مختلفو داخلی او خارجی شرکتونو ته په قرارداد ورکړي دي
- شاوخوا لس زره کسانو څخه پورته کارکونکو ته په کان کیندنه کې او زرګونو کسانو ته د کاني موادو په پروسس او سوداګری کې کاري فرصتونه رامنځته شوي دي.

1. د بدخشان ولایت د شهر بزرګ ولسوالی، د غور ولایت د شهرکت ولسوالی د سرب او جستو څلورم بلاک، د فاریابت ولایت د کوهستان ولسوالی پولی میتال او د غزني ولایت د مالستان ولسوالی د ګاومست سرب لوي مقیاست کانونه د 19/10/1403 الی 18/11/1403 مودې لپاره داوطلبۍ ته سپارلی چط د دغو کانونو په فعالیدو سره به زرګونو نورو هیوادوالو ته هم د کار زمینه برابره شي.

- ۲۷ کوچني قراردادونه اوسمهال په اعلان کې دي

# ادامه...

د کانونو او پټرولیم وزارت په پام کی لري چی د ټول هیواد په کچه د نویو منابعو د تفحص، بلاک بندۍ په موخه د سروي ټیمونه ساحې ته واستوي او هڅه کوي چې د کان کیندنې شرکتونو او پانگوالو ته د پانگونې غوره فرصتونه برابر کړي ترڅو هیوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته شي، د اسلامي امارت عوایدو ډیر او د ملي بودیجې په تامین کې خپله فعاله ونډه ادا کړي، او د هیواد د اقتصادي ودې او تقویې سبب شي.

# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | کان | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۱ | اوسپنه | پنجشیر/ پریان، | د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو د جیولوجي سروې ادارو د معلوماتو پر بنسټ، د پنجشیر پریان د اوسپنې کان د کابل څخه په 180 کیلومیټره او د ګلبهار څخه 65 کیلومیټره واټن کې پروت دی. د یادو ادارو د لابراتواري مطالعاتو پر اساس، نوموړي کان 47.8% FeO د یاد کان احتمالي ذخیره 275 میلیون ټنه اټکل شوی ده. |

# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | کان | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۳ | مس او سره زر | غزني/ زرکشان | د امریکا متحده ایالاتو او افغانستان د جیولوجي سروې ادارو د معلوماتو پر بنسټ، د غزني ولایت د زرکشانو کان د هیواد په جنوب ختیځ کې پروت دی چې ټوله ساحه یې 1،692 کیلومیتره مربع ده. 400 څخه تر600 میتره اوږدوالي لري. زخامت یې د 1 څخه تر 15 میتره پورې رسیږي. د یاد کان احتمالي ذخیره 12000 څخه تر 15000 کیلو ګرام سره زر اټکل شوې ده. |

# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | کان | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ٦ | د ډبرو سکاره | د ډبرو سکرو څخه د برښنا د تولید پروژې | د ډبرو سکرو، ابو، سرک او شته بریښنایي مزو د سرچینو په پام کې نیولو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د لومړینو مطالعاتو لپاره د پنځه سیمو وړاندیز کړی دی؛ په یادو ساحو کې د (1) بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ د غمش تنګی چشمه شفا ساحه د 750 میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري (2) د هرات ولایت د کرخ ولسوالۍ د ډبرو سکرو کان د 150 میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري (3) د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ د ډبرو سکرو کان د 100 میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري (4) د بغلان ولایت د خواجه الوان دښتې د ډبرو سکرو کان ظرفیت 300 میګاواټه دی او (5) د بامیان ولایت د کهمرد د ډبرو سکرو ساحه کولی شي 400 میګاواټه برښنا تولید کړي. |

# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانگونه وکړي

| گڼه | منرال/ډبرې | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۷ | د ډبرو سکاره | سمنگان | د افغانستان د جیولوجي سروې د معلوماتو پر بنسټ، د سمنگانو د ډبرو سکرو کان 555 میلیون ټنه احتمالي ذخیره لري. |
| ۸ | د ډبرو سکاره | سرپل | د سرپل ډبرو سکرو کانونه 141 میلیون ټنه څخه تر 1،5 میلیارد ټنه احتمالي ذخیره لري |
| ۹ | د ډبرو سکاره | بامیان | د بامیانو د ډبرو سکرو کان 113 میلیون ټنه احتمالي ذخیره لري، |
| ۱۰ | د ډبرو سکاره | بغلان | د بغلان د ډبرو سکرو کان 16 میلیون ټنه احتمالي ذخیره |
| ۱۱ | د ډبرو سکاره | هرات | دهرات د ډبرو سکرو کان 11 میلیون ټنه احتمالي ذخیره لري. |
| ۱۲ | سمنټو خام مواد | بلخ | د افغانستان د جیولوجي سروې د ادارې د معلوماتو پر بنسټ، د بلخ ولایت د سمنټو کان د څهار کینټ په ساحه کې د ولایت له مرکز څخه 25 کیلومیټره په واټن د مزار شریف ښار په جنوب کې پروت دی. د یاد کان احتمالي ذخیره 2،4 بیلیون ټنه ده. |

# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | منرال/ډبرې | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | سمنټو خام مواد | پکتیا | د پکتیا ولایت د سیمنټو کان د ولایت له مرکز څخه په 20 کیلومیترۍ کې د شمال په لور د تیرې په کوتل کې موقعیت لري احتمالي ذخیره یې 345 میلیون ټنه ده. |
| ۱۴ | مرمر ډبرې | دایکندي | د افغانستان د جیولوجي سروې د ادارې د معلوماتو پر بنسټ، د دایکندي ولایت د مرمرو ډبرو کان ۴۷.۹ میلیون ټنه احتمالي ذخیره لري.. |
| ۱۵ | مرمر ډبرې | هرات/ جرزمیيتاني | د هرات ولایت د جرزمیستاني مرمرو ډبرو کان د تګاو غازه نه پیل او تر سرسوني سیمې پورې 800 څخه تر 1000 میترو پورې لویدیځ سیند ته موقعیت لري د یاد کان احتمالي ذخیره 117،52 میلیون ټنه ده |
| ۱۶ | مرمر ډبرې | هرات / چیشت شریف | دهرات ولایت د چیشت شریف ولسوالي د مرمرو کان د ولایت له مرکز څخه 180 کیلومیتره په واټن ختیځ لوري ته پروت دی. د چیشت شریف کان 13 بلاکونه لري چې 10 یې مرمر او 3 نور یې تراورتین دي د یاد کان احتمالي ذخیره 31 میلیون ټنه ده. |


# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | منرال/ډبرې | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۱۷ | مرمر ډبرې | هرات/ زنده جان | د هرات ولایت د زنده جان ولسوالی د مرمرو کان د ولایت له مرکز څخه په 45 کیلومیټره واټن کې د لویدیځ لور ته پروت دی احتمالي دخیره یی 36 میلیون ټنه ده. |
| ۱۸ | رخام ډبرې | هلمند | د هلمند ولایت د رخامو ډبرو کانونه د یاد ولایت په دیشو او خانشین ولسوالیو کې موقعیت لري. تر اوسه پورې د یادو ولسوالیو په 22 ساحو کې د رخامو کانونه تثبیت شوي احتمالي ذخیرې به یی د دقیقې سروې ورسته معلومې شي. |
| ۱۹ | قیمتي ډبرې | بدخشان، پنجشیر، کابل، زابل، کنړ او دایکندي | د پورته یادې شوې ادارې د معلوماتو پر بنسټ په بدخشان کې د بیروجو، په پنجشیر کې د زمرودو او اکوامرین، په کابل او زابل کې د یاقوت او بیروجو په کنړ کې د بیروجو او نفرایتو او همدا شان په دایکندي کې د بیروجو کانونه شتون لري چې احتمالي ذخیرې یی تر اوسه نه دي معلومې شوې. |


# د کانونو او پټرولیم وزارت تر لاسه لاندې پروژې چې بهرني شرکتونه هم کولای شي په کې پانګونه وکړي

| ګڼه | نفت او ګاز | ساحه | د پروژې تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۲۰ | هایډرو کاربونونه | امو دریا | د جیولوجیکي معلوماتو پر بنسټ د امو دریا نفتي حوزه 57 زره کیلومیټر مربع اټکل شوی ده. یاده حوزه 6 بلاکونه لري، په 500 جیولوجیکي جوړښتونو کې سیزمیکي سروې ګانې تر سره شوي دي، په 64 جوړښتونو کې د سپړنې کیندنې شوي دي چې له دې جملې څخه په 8 جیولوجیکي جوړښتونو کې ګاز او په 6 جوړښتونو کې نفت موندل شوي دي. د ګازو موندل شوي ذخایر 141 بیلیون میټر مکعب دي چې 76 بیلیون میټره مکعب یې تر اوسه پورې ویستل شوي دي. |
| ۲۱ | هایډرو کاریونونه | افغان تاجک | د افغان تاجک نفتي حوزه 31 زره کیلومیټر مربع اټکل شوی ده. یاده ساحه 12 بلاکونه لري چې دوه بلاکونه یې په قرار داد ورکړل شوي دي او 10 نور بلاکونه داوطلبی ته تیار دي. د یادې حوزې 2 ورکړل شوو بلاکونو ګټونکي کنسرشیوم ((Turkish Petroleum Dragon Oil and Ghanzanfar Ltd.)په پام کې لري چې د 5،500 میټرو څخه زیاتې ژورې سپړنې وکړي. |
| ۲۲ | هایډرو کاربونونه | کتواز، کوشک تیر پل، هلمند | د کتواز، کوشکه تیرپل او هلمند نفتي حوزو سروې تر اوسه پورې نه دي شوې. د کانونو او پټرولیم وزارت په پام کې لري چې د کتواز او هلمند حوزو کې هوایې مقناطیسي او جاذبوي سروې تر سره کړي او په کوشکه تیر پل کې څمکنی دوه بعُدي (2D) سروې تر سره کړي. |

# د کوچني مقیاس کان کیندنې د جوازونو ورکولو پروسه



# پروسه عقد قرارداد معدنکاری مقیاس بزرگ



# له پاملرنې څخه مو نړۍ مننه

کانونو او پټرولیم وزارت

۱۴۰۳